دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليي وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده گڼه

- د عسكري جزايي اجراآتو قانون
- د كوپراتيفونو د قانون د دېرشمې مادې د (۱) فقرې تعديل
- دخصوصي هوايي حمل او نقل د مؤسسو د رامنځته كولو په مقرره كې حذف او تعديل
- دعرادو او ماشين آلاتو دسون د توكو د لګښت د مقررې د (۴۸) مادې نوې تعديل

- قانون اجراآت جزائی عسکری
- تعديل فقرۀ (۱) مادۀ سی ام قانون کوپراتیف ها
- حذف و تعديل در مقررۀ ايجاد مؤسسات حمل و نقل هوائی خصوصی
- تعديل مجدد مادۀ (۴۸) مقررۀ مصرف مواد سوخت عراده ها و ماشين آلات

د خپريدو نېټه:د ۱۳۸۹ هـ .ش كال د غوي د مياشتې (۲۰)
پرله پسې نمبر: (۱۰۲۰)

تاريخ نشر : (۲۰) ثور سال ۱۳۸۹هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۰۲۰)

در این شماره :


۱- **قانون اجراآت جزائی عسکری از صفحهٔ (۱_۵۳)**

۲- **تعدیل فقرهٔ (۱) ماده سی ام قانون کوپراتیف ها صفحهٔ (۵۴)**

۳- **حذف و تعدیل در مقررهٔ ایجاد مؤسسات حمل و نقل هوائی خصوصی صفحهٔ (۵۵_۵٦)**

۴- **تعدیل مجدد مادهٔ (۴۸) مقررهٔ مصرف مواد سوخت عراده ها و ماشین آلات صفحهٔ (۵۷_۵۸)**



**د امتیاز خاوند: دعدلیي وزارت**

مسئول چلوونکی : حیدر "محقق"

۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸

د دفتر تیلفون : ۲۱۰۳۳۷۵

مرستیال: نور علم

۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمد جان

۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲

وب سایت : www.moj.gov.af

قیمت این شماره : (۵۰) افغاني

تیراژ چاپ اول: (۵۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات، چهارراهي پشتونستان، کابل

## دعسكري جزايي اجراآتو د قانون دتوشېح په هكله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

**گڼه: ۲۳**

**نېټه:۱۳۸۹/۲/۱۸**

### لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د څلور شپېتمې مادې د (۱٦) فقرې اودسلمې مادې د حكم له مخې، د عسكري جزايي اجراآتو قانون چې د ملي شوري د مجلسينو د گډ هيئت د ۱۳۸۸/٦/۱۷ نېټې د(۱۴۵)گڼې پرېكړې پر بنسټ، په (۷) فصلونو او (٦۳) مادوكې تصويب شوی، توشېح كوم.

### دوه يمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او له قانون او د ملي شوري د مجلسينو د گډ هيئت له پرېكړې سره يو ځای دې په رسمي جريده كې خپور شي.

حامد كرزی

د افغانستان د اسلامي

جمهوريت رئيس

---

## فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون اجراآت جزائی عسكری

**شماره: ۲۳**

**تاريخ: ۱۳۸۹/۲/۱۸**

### مادۀ اول:

به تأسی از حكم فقرۀ (۱٦) مادۀ شصت وچهارم و مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان قانون اجراآت جزائی عسكری را كه به اساس فيصلۀ شماره (۱۴۵) مؤرخ ۱۳۸۸/٦/۱۷ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی بداخل (۷) فصل و (٦۳) ماده به تصويب رسيده، توشيح می دارم.

### مادۀ دوم:

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و همراه با قانون و فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی در جريدۀ رسمی نشر گردد.

حامد كرزی

رئيس جمهوری اسلامی

افغانستان

## د افغانستان ملي شوري
## د عسكري جزايي اجراآتو د قانون
## مصوبه

پرله پسې ګڼه: ۱۴۵
د تصويب نېټه: ۱۷/ ٦/ ۱۳۸۸

د اساسي قانون د سلمې مادې د حكم له مخې، د ملي شوري د هرې جرګې له غړو څخه د مجلسينو له پنځو پنځو تنو غړو څخه جوړ شوي ګډ هيئت، د ۱۳۸۸ كال د وږي د مياشتې په اوولسمه نېټه د عسكري جزايي اجراآتو قانون په اوو فصلونو او درې شپېتو مادوكې تصويب كړ.

دګډ هيئت رئيس
نورالحق علومي

د ګډ هيئت مرستيال
محمد هاشم اورتاق

## شورای ملی افغانستان
## مصوبۀ
## قانون اجراآت جزائی عسکری

شمارۀ مسلسل: ۱۴۵
تاریخ تصویب: ۱۳۸۸/٦/۱۷

به تأسی از حکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی مرکب از پنج پنج نفر از اعضای هر جرگه قانون اجراآت جزائی عسکری را به داخل هفت فصل وشصت وسه ماده به تاریخ هفدهم ماه سنبله ۱۳۸۸ تصویب نمود.

رئیس هیئت مختلط
نورالحق علومی

معاون هیئت مختلط
محمد هاشم اورتاق

## فهرست مندرجات

## قانون اجراآت جزائی عسکری

## فصل اول

## احکام عمومی



| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنیٰ | ۱ |
| مادهٔ دوم: | اصطلاحات | ۱ |
| مادهٔ سوم: | ساحهٔ تطبیق قانون از حیث اشخاص | ۳ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق قانون از حیث مکان | ۵ |
| مادهٔ پنجم: | صلاحیت قضایی | ۵ |
| مادهٔ ششم: | جدا نگهداشتن هنگام نظارت و توقیف | ۷ |
| مادهٔ هفتم: | تسلیم دهی متهم به مقامات ملکی | ۷ |
| مادهٔ هشتم: | دیوان های مؤقت | ۸ |
| مادهٔ نهم: | ممنوعیت مجازات قبل از اصدار حکم | ۸ |
| مادهٔ دهم: | ممنوعیت محاکمهٔ مجدد | ۹ |
| مادهٔ یازدهم: | مرور زمان سقوط دعوی جزائی | ۹ |
| مادهٔ دوازدهم: | محاسبهٔ مدت نظارت و توقیف در میعاد حبس | ۱۰ |
| مادهٔ سیزدهم: | اخذ اقرار | ۱۱ |
| مادهٔ چهاردهم: | حقوق متهم | ۱۱ |
| مادهٔ پانزدهم: | قانونیت اسناد و دلایل | ۱۲ |
| مادهٔ شانزدهم: | ثبت اقدامات اجرائی | ۱۲ |

## فصل دوم

## کشف جرایم

مادۀ هفدهم: کشف جرم.................................۱۳
مادۀ هجدهم: راپور جرایم.................................۱۳
مادۀ نزدهم: گرفتاری.................................۱۵
مادۀ بیستم: گرفتاری فراریان.................................۱۸

## فصل سوم

## تحقیق جرایم

مادۀ بیست ویکم: اجرای تحقیق.................................۱۹
مادۀ بیست ودوم: جمع آوری دلایل و شواهد.....................۲۱
مادۀ بیست وسوم: حضور وکیل مدافع.............................۲۲
مادۀ بیست وچهارم: نتیجۀ تحقیقات.................................۲۴

## فصل چهارم

## محاکمه

مادۀ بیست وپنجم: نصاب قضات.................................۲۵
مادۀ بیست وششم: منشی محکمه.................................۲۶
مادۀ بیست وهفتم: تمدید رسیدگی.................................۲۶
مادۀ بیست وهشتم: مصئونیت محکمه.............................۲۷
مادۀ بیست ونهم: امتناع قاضی.................................۲۷

مادۀ سی ام: رد صلاحیت قاضی................................۲۹
مادۀ سی ویکم: تاریخ محاکمه......................................۲۹
مادۀ سی ودوم: دسترسی به شهود و مدارک.......................۳۰
مادۀ سی وسوم: متهم مصاب به امراض روانی.....................۳۰
مادۀ سی وچهارم: حضور متهم در محکمه........................۳۱
مادۀ سی وپنجم: مکلفیت حضور شهود و اهل خبره...............۳۲
مادۀ سی وششم: سوگند.............................................۳۲
مادۀ سی وهفتم: امتناع از ادای شهادت ...........................۳۳
مادۀ سی وهشتم: نظارت از ادای سوگند و اظهارات قطعی شاملین قضیه..............................۳۳
مادۀ سی ونهم: نظم جلسۀ قضائی.................................۳۴
مادۀ چهلم: اخلال نظم محکمه......................................۳۵
مادۀ چهل ویکم: طرز رسیدگی قضائی..............................۳۷
مادۀ چهل ودوم: صدور حکم.........................................۳۸
مادۀ چهل وسوم: ابلاغ حکم.........................................۳۸
مادۀ چهل وچهارم: فیصلۀ محکمۀ ابتدائیه...........................۳۸
مادۀ چهل وپنجم: قطعیت حکم.......................................۳۹
مادۀ چهل وششم: استفاده از حقوق و امتیازات در جریان تحقیق و محاکمه..................................۴۰
مادۀ چهل وهفتم: تطبیق مجازات حبس.............................۴۰

## فصل پنجم

## اجراآت استیناف خواهی

مادۀ چهل وهشتم: تقاضای استیناف خواهی.......................... ۴۱
مادۀ چهل ونهم: توقف اجراآت واستیناف خواهی در مورد متهم غایب......................................... ۴۲
مادۀ پنجاهم: طرز استیناف خواهی........................................ ۴۳
مادۀ پنجاه ویکم: محتوای درخواست استیناف خواهی............. ۴۴
مادۀ پنجاه ودوم: اجراآت استینافی...................................... ۴۵
مادۀ پنجاه وسوم: صلاحیت محکمۀ استیناف........................... ۴۶
مادۀ پنجاه وچهارم: رسیدگی به درخواست استیناف خواهی......... ۴۷
مادۀ پنجاه وپنجم: فیصلۀ محکمۀ استیناف............................. ۴۸

## فصل ششم

## فرجام خواهی و تجدید نظر

مادۀ پنجاه وششم: اعتراض علیه فیصلۀ محکمۀ استیناف............. ۴۹
مادۀ پنجاه وهفتم: تجدید نظر........................................... ۵۰

## فصل هفتم

## احکام نهائی

مادۀ پنجاه وهشتم: شرایط څارنوال و وکیل مدافع................ ۵۱
مادۀ پنجاه ونهم: مجازات اعدام....................................... ۵۱
مادۀ شصتم: تطبیق احکام قانون اجراآت جزائی................ ۵۲

مادهٔ شصت ویکم: حکم به اقساط......................................۵۲

مادهٔ شصت ودوم: صلاحیت محاکم عسکری در دعوی حق العبدی..۵۲

مادهٔ شصت وسوم: تاریخ انفاذ.........................................۵۳

## دعسکري جزايي اجراآتو
## قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

مبني

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون، د افغانستان د اساسي قانون په يو سلو دوه ويشتمه او يو سلو څلور دېرشمه ماده کې د درج شويو حکمونو له مخې، د وسله والو ځواکونو د عسکري منسوبينو (ملي اردو) د دنده ييزو جرمونو په کشف، تحقيق او څېړنې (رسيدګۍ) پورې اړوندو اجراآتو د تنظيم په منظور، وضع شوی دی.

اصطلاحګانې

**دوه يمه ماده:**

(۱) دغه اصطلاحګانې په دې قانون کې لاندې معناوې افاده کوي:

## قانون اجراآت جزائی
## عسکری
## فصل اول
## احکام عمومی

مبنی

**مادۀ اول:**

این قانون به تأسی از احکام مندرج مواد یکصدو بیست و دوم و یکصدو سی و چهارم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم اجراآت مربوط به کشف، تحقیق ورسیدگی جرایم وظیفوی منسوبین عسکری قوای مسلح (اردوی ملی) وضع گردیده است.

اصطلاحات

**مادۀ دوم:**

(۱) اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می نماید:

۱- مظنون: هغه شخص دی چې د کشف او تحقیق په هر یوهٔ پړاو کې د جرم ارتکاب هغهٔ ته نسبت ورکول کیږي.

۲- تورن: هغه شخص دی چې د څارنوال لخوا د هغهٔ پر علیه د محکمې په وړاندې د جزایي دعوي اقامې، صورت موندلی وي.

۳- حقوقي افسر: هغه افسر دی چې خپل تحصیلي سند یې د حقوقو او شرعیاتو له پوهنځي څخه د لیسانس په درجه او یا له هغه څخه پورته د هېواد په دننه او یا بهر کې تر لاسه کړی وي.

دغه اصطلاح د افغانستان د وسله والو ځواکونو دقولو اردوګانو او دلویو جزوتامونو د حقوقو د رئیسانو، کارکوونکو، او حقوقي مشاورینو، په حال کې شاملیږي.

۴- په دې قانون کې درج شوې نورې اصطلاحګانې د

۱- مظنون: شخصی است که در هر یک از مراحل کشف و تحقیق، ارتکاب جرم بوی نسبت داده می شود.

۲- متهم: شخصی است که از طرف څارنوال علیه وی در پیشگاه محکمه، اقامهٔ دعوی جزائی صورت گرفته باشد.

۳- افسر حقوقی: افسری است که سند تحصیلی از پوهنځی های حقوق و یا شرعیات به درجهٔ لیسانس و یا بالاتر از آن از داخل و یا خارج کشور داشته باشد.

این اصطلاح شامل حال رؤسای حقوق، کارمندان و مشاورین حقوقی قول اردوها و جزوتام های بزرگ قوای مسلح افغانستان می گردد.

۴- سایر اصطلاحات مندرج این قانون دارای

۱۳۸۴/۸/۳۰ نېټې په (۸٦٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي دعسکري محکمو په قانون کې د درج شويو اصطلاحګانو د معناوو لرونکې دي.

(۲) د وسله والو ځواکونو (ملي اردو) منسوبين لدې وروسته پدې قانون کې د عسکري منسوبينو په نامه يادېږي.

## داشخاصو له حيثه د قانون د تطبيق ساحه

**درېيمه ماده:**

د دې قانون حکمونه په لاندې اشخاصو باندې د تطبيق وړ دي:

۱- هغه شخص چې عسکري حلف يې پر ځای کړی وي.

۲- هغه شخص چې قانوني سن يې بشپړ او په داوطلبانه ډول او يا د قانون پر بنسټ عسکري مکلفيت ته د وسله والو ځواکونو په صفونو کې شامل شوی وي.

معانی اصطلاحات مندرج قانون محاکم عسکری منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸٦٦) مؤرخ ۳۰/ ۸/ ۱۳۸۴ می باشد.

(۲) منسوبين قوای مسلح (اردوی ملی) منبعد درين قانون بنام منسوبين عسکری ياد می شوند.

## ساحۀ تطبيق قانون از حيث اشخاص

**مادۀ سوم:**

احکام اين قانون بالای اشخاص ذيل قابل تطبيق می باشد:

۱- شخصی‌که حلف عسکری را به جا نموده باشد.

۲- شخصی‌که سن قانونی را تکميل و طور داوطلبانه و يا به اساس قانون مکلفيت عسکری شامل صفوف قوای مسلح گرديده باشد.

۳- هغه شخص چې د وسله والو ځواکونو بر حاله منسوب وي او د خدمت موده یې د قانون د حکمونو مطابق بشپړه شوې نه وي.

۴- هغه شخص چې د احتیاط ځواکونو منسوب وي او د برحالۍ په وخت کې د جرمي عمل مرتکب شوی وي دعسکري محکمې په واسطه د تحقیق د ترسره کولو او محاکمې په خاطر، احضاربږي.

۵- هغه شخص چې د تزویري سندونو څخه په ګټې اخیستنې سره یې د وسله والو ځواکونو له صفونو څخه خپل انفکاک ترلاسه کړی وي.

۶- هغه شخص چې د وسله والو ځواکونو له لیکو څخه تښتېدلی وي او نیول شوی وي.

۷- جنګي اسیران او هغه افراد چې د وسله والو ځواکونو تر څارنې لاندې وي او یا خپله د حبس موده د وسله والو ځواکونو په محبس کې

۳- شخصیکه منسوب بر حال قوای مسلح بوده و میعاد خدمت وی طبق قانون تکمیل نگردیده باشد.

۴- شخصیکه منسوب قوت های احتیاط بوده و در زمان برحالی مرتکب عمل جرمی گردیده و بخاطر انجام تحقیقات و محاکمه توسط محکمهٔ عسکری، احضار می-گردد.

۵- شخصیکه با استفاده از اسناد تزویری انفکاک خود را از صفوف قوای مسلح حاصل نموده باشد.

۶- شخصیکه از صفوف قوای مسلح فرار نموده و گرفتار گردیده باشد.

۷- اسرای جنگی و افرادیکه تحت نظارت قوای مسلح قرار داشته و یا مدت حبس خویش را در محبس قوای مسلح سپری

تېروي، په دې شرط چې د څارنې او توقيف په موده کې د جرم مرتکب شي.

۸- هغه اشخاص چې د هېواد د نافذو قوانينو او نړيوالو پيمانونو او موافقه ليکونو مطابق د هغوی د جرمي قضيو د څېړلو واک، عسکري محکمې ته سپارل شوی وي.

د مکان له حيثه د قانون د تطبيق ساحه

څلورمه ماده:

دغه قانون په ټولو سيمو کې پر عسکري منسوبينو او ددې قانون په درېيمه ماده کې پردرج شوو اشخاصو باندې په هغهٔ صورت کې چې د جرم مرتکب شوي وي، د تطبيق وړدی.

قضايي واک

پنځمه ماده:

(۱) د عسکري ابتدائيه او استيناف محکمې قضايي واک، د عسکري

می نمايند، مشروط به اينکه در زمان نظارت و توقيف مرتکب جرم گردند.

۸- اشخاصی که صلاحيت رسيدگی قضايای جرمی آنها طبق قوانين نافذهٔ کشور و پيمانها و موافقتنامه های بين المللی به محکمهٔ عسکری تفويض شده باشد.

ساحهٔ تطبيق قانون از حيث مکان

مادهٔ چهارم:

اين قانون در تمام مناطق بالای منسوبين عسکری و اشخاص مندرج مادهٔ سوم اين قانون در صورتی که مرتکب جرم شده باشند، قابل تطبيق می باشد.

صلاحيت قضائی

مادهٔ پنجم:

(۱) صلاحيت قضائی محکمهٔ ابتدائيه و استيناف عسکری منحصر به

منسوبينو د دنده ييزو جزايي قضيو په څېړلو پورې منحصر دی. د عسكري منسوبينو او د ملكي اشخاصو د غير دنده ييزو جرمونو څېړل د عمومي محكمو واک دی.

(۲) د ملي دفاع وزارت او په وضع الجېش كې د داخلو وسله والو ځواكونو د جزوتامونو د ملكي كاركوونكو د جزايي قضيو څېړل د اړوندو عسكري محكمو د قضايي واک په حوزه كې شامل ندی، خو دا چې په قانون كې بل ډول اټكل شوی وي.

(۳) عسكري محكمې، جرمي قضيې د دې قانون او دهېواد د نورو نافذو قوانينو د حكمونو پربنسټ تر څېړنې لاندې نيسي.

(۴) د ځای له لحاظه د عسكري محكمې په قضايي واک كې دهغو قضيو څېړل شامل دي چې په قضايي حوزه كې يې ارتكاب شوې وي.

---

رسيدگی قضايای جزائی وظيفوی منسوبين عسكری می باشد. رسيدگی به جرايم غير وظيفوی منسوبين عسكری و اشخاص ملكی از صلاحيت محاكم عمومی می باشد.

(۲) رسيدگی به قضايای جزائی كاركنان ملكی وزارت دفاع ملی و جزو تام های قوای مسلح داخل وضع الجيش تابع قوانين ملكی بوده، شامل حوزۀ صلاحيت قضائی محاكم عسكری مربوط نمی باشد، مگر اينكه در قانون طور ديگری پيشبينی گرديده باشد.

(۳) محاكم عسكری، قضايای جرمی را به اساس احكام اين قانون وساير قوانين نافذۀ كشور مورد رسيدگی قرار می دهند.

(۴) صلاحيت قضايی محكمۀ عسكری از لحاظ محل شامل رسيدگی قضايائی می باشد كه در حوزۀ قضائی آن ارتكاب يافته باشد.

قضايي حوزه له عسکري قطعې او جزوتام څخه عبارت دی او یا دا چې د جرم ارتکاب د دندې د ترسره کولو په وخت کې او یا د هغه له امله صورت موندلی وي.

**د څارنې او توقیف په وخت کې بېل ساتل**

**شپږمه ماده:**

ددنده ییزو جرمونو په ارتکاب باندې مظنون یا تورن عسکري منسوبین، په عسکري جرمونو باندې له مظنونو یا تورنو کورنیو یا بهرنیو اشخاصو سره په یوه ځای کې تر څارنې، توقیف او حبس لاندې نه نیول کیږي.

**ملکي مقاماتو ته د تورن تسلیمول**

**اوومه ماده:**

(۱) که چیرې عسکري منسوب په ملکي ساحه کې د غیر دنده ییزو جرمونو په ارتکاب تورن وي، د ملکي مقاماتو د غوښتنې پربنسټ، د محاکمې لپاره اړوندې مرجع ته

حوزهٔ قضائی عبارت از جزوتام و قطعهٔ عسکری می باشد و یا اینکه ارتکاب جرم حین اجرای وظیفه و یا به سبب آن صورت گرفته باشد.

**جدانگهداشتن هنگام نظارت و توقیف**

**مادهٔ ششم:**

منسوبین عسکری مظنون یا متهم به ارتکاب جرایم وظیفوی با اشخاص داخلی و خارجی مظنون یا متهم به جرایم عسکری دریک محل تحت نظارت، توقیف و حبس قرار داده نمی شوند.

**تسلیم دهی متهم به مقامات ملکی**

**مادهٔ هفتم:**

(۱) هرگاه منسوب عسکری متهم به ارتکاب جرایم غیر وظیفوی در ساحهٔ ملکی باشد، به اساس تقاضای مقامات ملکی، غرض محاکمه به مرجع مربوط تسلیم

تسليمېږي.

(۲) که چېرې د عسکري محکمې لخوا په حبس محکوم شوی، د ملکي جرم د ارتکاب له امله، ملکي مقاماتو ته تسليم شي او دغه تسليم ورکونه د ملکي محکمې په واسطه دهغهٔ په محکوميت تمامه شي، د حکم شوي حبس تنفيذ د عسکري محکمې لخوا ځنډيږي او وروسته له هغې چې پر محکوم عليه باندې دملکي محکمې حکم تطبيق شي، نومورې دوسله والو ځواکونو د مخکني حبس د مودې د بشپړولو په غرض دوسله والو ځواکونو عسکري محبس ته لېږدول کېږي.

## مؤقت ديوانونه

**اتمه ماده:**

په عسکري محکمو کې مؤقت ديوانونه عندالضرورت د جمهور رئيس په منظورۍ جوړېدای شي.

داده می شود.

(۲) هرگاه محکوم به حبس از جانب محکمهٔ عسکری بالا تر ارتکاب جرم ملکی به مقامات ملکی تسليم داده شود و اين تسليم دهی منتج به محکوميت وی توسط محکمهٔ ملکی گردد، تنفيذ حبس حکم شده از جانب محکمهٔ عسکری معطل و بعد از اينکه حکم محکمهٔ ملکی بالای محکوم عليه تطبيق گرديد، موصوف غرض تکميل نمودن ميعاد حبس قبلی به محبس قوای مسلح منتقل می گردد.

## ديوانهای مؤقت

**مادهٔ هشتم:**

ديوانهای مؤقت در محاکم عسکری عندالضرورت به منظوری رئيس جمهور ايجاد شده می تواند.

## د حکم له صادرېدو دمخه د مجازاتو ممنوعیت

نهمه ماده:

د وسله والو ځواکونو مقامات او عسکري منسوبین نشي کولای، هېڅ شخص د واکمنې محکمې د حکم له صادرېدو د مخه، مجازات کړي. د ترامر لاندې عسکري منسوبینو په هکله د دسپلیني مجازاتو او احتیاطي تدبیرونو تطبیقول لدې امر څخه مستثني دی.

## د بیا محاکمې ممنوعیت

لسمه ماده:

شخص دیوهٔ جرمي عمل د ارتکاب په سبب دوه ځلې محاکمه کېدای نشي.

## د جزایي دعوي د سقوط د وخت تېرېدل

یوولسمه ماده:

(۱) تورن د جګړې په وخت کې په خپل سر غیابت او یا د هغهٔ جرم د

## ممنوعیت مجازات قبل از اصدار حکم

مادهٔ نهم:

مقامات و منسوبین عسکری نمی توانند، هیچ شخص را قبل از اصدار حکم محکمهٔ ذیصلاح مجازات نمایند. تطبیق مجازات دسپلینی و تدابیر احتیاطی در مورد منسوبین عسکری تحت امر از این حکم مستثنی می باشد.

## ممنوعیت محاکمهٔ مجدد

مادهٔ دهم:

شخص به سبب ارتکاب یک عمل جرمی دوبار محاکمه شده نمی تواند.

## مرور زمان سقوط دعوی جزائی

مادهٔ یازدهم:

(۱) متهم به غیابت خود سرانه در زمان جنگ و یا در صورت ارتکا ب

ارتکاب په صورت کې چې جزايې اعدام وي، د گرفتارى د تېرې شوې وخت مودې له په پام کې نيولو پرته، د نيونې په وخت کې تر عدلي تعقيب لا ندې نيول کېږي.

(۲) ددې مادې په لومړۍ فقره کې د درج شويو حالاتو په استثني، د نورو عسکري جرمونو تعقيب د هېواد د نافذو قوانينو له حکمونو سره سم د وخت د تېرېدو تابع کېږي.

(۳) که چېرې د جگړې په بهير کې د درنو عواقبو لرونکې جرم، د ارتکاب له نېټې څخه دلسو کلونو په موده کې تر عدلي تعقيب لاندې رانشي، خوتور د جگړې له پای ته رسېدو وروسته د دريو کلونو په موده کې پرتورن وارد شوی وي، مرتکب تر عدلي تعقيب لا ندې نيول کېدای شي.

جرمی که جزای آن اعدام باشد، بدون نظرداشت مدت زمان سپری شده، حين گرفتاری مورد تعقيب عدلی قرار می گيرد.

(۲) به استثنای حالات مندرج فقرۀ يک اين ماده، تعقيب عدلی ساير جرايم عسکری طبق احکام قوانين نافذۀ کشور تابع مرور زمان می گردد.

(۳) هرگاه در جريان جنگ، جرم دارای عواقب سنگين از تاريخ ارتکاب الی مدت ده سال مورد تعقيب عدلی قرار نه گيرد، ولی اتهام در طول سه سال بعد از ختم جنگ به متهم وارد گرديده باشد، مرتکب مورد تعقيب عدلی قرار گرفته می‌تواند.

## د حبس په موده کې د څارنې او توقیف د مودې محاسبه کول

دوولسمه ماده:

دمظنون او تورن د څارنې او توقیف موده، دمحکومیت په صورت کې د هغه دحبس په مودې کې محاسبه کېږي.

## د اقرار اخيستل

دیارلسمه ماده:

(۱) هېڅ شخص نشي کولای مظنون یا تورن اړباسي چې د ځان پر ضد اظهارات وړاندې کړي.

(۲) هغه اظهار، اقرار او شهادت چې له تورن یا بل شخص څخه د اکراه په وسیله تر لاسه شي، اعتبار نلري.

(۳) هیڅ شخص نشي کولای مظنون یا تورن هغو اظهاراتو ته اړباسي چې دتور په موضوع پورې اړه نلري.

## محاسبهٔ مدت نظارت و توقیف در میعاد حبس

مادهٔ دوازدهم:

مدت نظارت و توقیف مظنون و متهم در صورت محکومیت به میعاد حبس وی محاسبه می شود.

## اخذ اقرار

مادهٔ سیزدهم:

(۱) هیچ شخص نمی‌تواند مظنون یا متهم را وادار سازد که اظهارات را علیه خود ارایه بدارد.

(۲) اظهار، اقرار و شهادتیکه از متهم یا شخص دیگری به وسیله اکراه بدست آورده شود، اعتبار ندارد.

(۳) هیچ شخص نمی تواند مظنون یا متهم را وادار به اظهاراتی نماید که به موضوع اتهام ربط ندارد.

## د تورن حقوق

خوارلسمه ماده:

د کشف، تحقیق او محکمې مؤظفین مکلف دي د اقداماتو له پیل څخه د مخه، مظنون او یا تورن لـه هغـو حقوقو څخه چې لاندې ذکر کېږي، خبر کړي:

۱- د چوپتیا (سکوت) حق.

۲- د تور له ډول او د تحقیـق لـه ترسره کېدو څخه د خبرېدو حق.

۳- د مدافع وکیل د لرلو حق.

۴- لدې امر څخه د خبرېدو د حق لرل چې د هغه اظهارات د مدرکونو په توګه د هغه پر ضد په محکمه کې تر استفادې لاندې نیول کېدای شي.

۵- د ځای د پلټنې په وخت کـې د شتون حق، په صف کې پیژندنه او د اهل خبره وو په وسیله معاینات.

## د سندونو او دلیلونو قانونیت

پنځلسمه ماده:

هغه دلیلونه او شواهد چې د قانون د

## حقوق متهم

مادۀ چهاردهم:

مؤظفین کشف، تحقیق و محکمـه مکلف اند قبل از آغـاز اقـدامات، مظنون ویا متهم را از حقوقی که در ذیـل ذکـر مـی گـردد، آگـاه سازند:

۱- حق سکوت.

۲- حق باخبر شدن از نوعیت اتهام و انجام تحقیق.

۳- حق داشتن وکیل مدافع.

۴- حق آگاه شـدن از ایـن امـر کـه اظهـارات وی بـه حیـث مـدارک علیـه وی در محکمـه مورد استفاده قرار گرفته می‌تواند.

۵- حق حضور در هنگـام تفتـیش محل، شناسائی در صف و معاینـات توسط اهل خبره.

## قانونیت اسناد و دلایل

مادۀ پانزدهم:

دلایل و شواهدیکه بـدون رعایـت

حکمونو له په پام کې نيولو پرته راټول شوي وي، بی اعتباره دي، محکمه نشي کولای د هغو په استناد حکم وکړي.

د اجرايي اقداماتو ثبتول

شپاړسمه ماده:

هغه اقدامونه چې د دې قانون د حکمونو د تطبيق په برخه کې د جرمي قضيو د څېړلو په منظور، صورت مومي، د اړوندو دفترونو لخوا په ليکلې توګه ثبتېږي.

## دوه يم فصل

## د جرمونو کشفول

د جرم کشفول

اووه لسمه ماده:

د وسله والو ځواکونو د قطعاتو او جزو تامونو عسکري قوماندانان او انضباطان مکلف دي، عسکري جرمونه د خپل مسئوليت په ساحه کې کشف، مرتکب يې تشخيص

احکام قانون جمع آوری شده باشد، فاقد اعتبار بوده، محکمه نمی تواند به استناد آن حکم نماید.

ثبت اقدامات اجرائی

مادهٔ شانزدهم:

اقداماتیکه در زمینهٔ تطبیق احکام این قانون، به منظور رسیدگی به قضایای جرمی صورت می‌گیرد، از طرف دفاتر مربوط طور کتبی ثبت می گردد.

## فصل دوم

## کشف جرایم

کشف جرم

مادهٔ هفدهم:

قوماندانان و انضباطان عسکری قطعات و جزو تام های قوای مسلح مکلف اند، جرایم عسکری را در ساحهٔ مسئولیت خویش کشف و مرتکب را تشخیص و به منظور

اودعدلي تعقيب په منظور يې اړوند و مراجعوته وروپېژني.

## د جرمونو رپوټ

**اتلسمه ماده:**

(۱) هر عسکري منسوب مکلف دی دعسکري منسوب په واسطه د جرم يا تخلف د ارتکاب له خبرېدو سره جوخت اړوندو مراجعو ته رپوټ ورکړي.

(۲) ترلاسه کوونکې مرجع رسېدلی رپوټ او نور معلومات ژر تر ژره هغه قوماندان ته چې مظنون مستقيماً د هغه تر امر لاندې وي، وړاندې کوي.

(۳) هغه قوماندانان چې د خپل امر لاندې منسوبينو دعسکري جرم او تخلفاتو له ترسره کولو څخه خبرېږي، د ترسره شوو جرمونو د حقايقو په اړه د ابتدائيه څېړنو په ترسره کولو مکلف دي.

که د موضوع د ابتدائيه څېړنو په

تعقيب عدلی به مراجع مربوط معرفی نمايند.

## راپور جرايم

**مادۀ هجدهم:**

(۱) هر منسوب عسکری مکلف است به مجرد آگاهی از ارتکاب جرم يا تخلف توسط منسوب عسکری به مراجع ذيربط راپور دهد.

(۲) مرجع دريافت کنندۀ اطلاعيه به اسرع وقت راپور واسله وساير معلومات را به قوماندانيکه مظنون مستقيماً تحت امر وی باشد، ارايه می نمايد.

(۳) قوماندانانيکه از ارتکاب جرم و تخلفات عسکری، توسط منسوبين تحت امر مطلع می گردند، مکلف به انجام بررسی ابتدائيه در مورد حقايق و حالات جرايم ارتکاب يافته می باشند.

اگر به بررسی ابتدائی موضوع،

ترخ کې، داسې دلایل ترلاسه شي چې ترسره شوی عمل جرم نه دی، په دې صورت کې اړوند قوماندان د غیر قضايي مجازاتو مقرره تطبیقوي.

که د موضوع د ابتدائیه څېړنو په بهیر کې، داسې دلایل ترلاسه شي چې ترسره شوی عمل جرم دی، په دې صورت کې د قطعې قوماندان قضیه اړوندې څارنوالی ته راجع کوي، ترڅو ددې قانون ددریم فصل مطابق تر تحقیق او عدلي تعقیب لاندې ونیول شي.

(۴) که چېرې قوماندان ددې مادې په دریمه فقره کې درج شوي مکلفیتونه ترسره نه کړي، د ستر درستیز د حقوقو رئیس کولای شي د مؤجه اسنادو او دلایلو د شتون په صورت کې د قانون مطابق اړوندې مرجع ته د دې قضیې د تعقیب په هکله مقتضي لارښوونه صادره کړي.

دلایلی به دست بیاید که عمل ارتکاب یافته جرم نبوده، در این صورت قوماندان مربوطه مقررهٔ مجازات غیر قضائی را تطبیق می نماید.

اگر در جریان بررسی ابتدائی موضوع، دلایلی به دست بیاید که عمل ارتکاب یافته جرم می باشد، در این صورت قوماندان قطعه قضیه را به څارنوالی مربوطه محول می نماید تا قضیه مطابق فصل سوم این قانون تحقیق و تعقیب عدلی گردد.

(۴) هرگاه قوماندان مکلفیت های مندرج فقرهٔ سوم این ماده را انجام ندهد رئیس حقوق ستر درستیز می تواند در صورت موجودیت اسناد و دلایل مؤجه طبق قانون به مراجع ذیربط در زمینهٔ تعقیب قضیه هدایت مقتضی صادر نماید.

## نیول (ګرفتاري)

نولسمه ماده:

(۱) نیول (ګرفتاري) د دې قانون په موجب د مظنون شخص نیول او د هغه تر څارنې لاندې راوستلو څخه عبارت دی چې د واکمنې مرجع د امر پربنسټ په لاندې حالاتو کې صورت مومي:

۱- په هغه حالاتو کې چې ارتکاب شوی عمل جنایت او یا هغه جنحه وي چې جزایې په قانون کې تر درې کلونو پورې حبس، اټکل شوی وي.

۲- په هغه حالت کې چې د خلکو ساتنه او مصئونیت د متضرر او شاهدانو په شمول په مخاطره کې ولوېږي.

۳- په هغه حالاتو کې چې د مظنون او یا تورن تېښته متصوره وي او یا د کشف او تحقیق ارګانونو ته حاضر نشي.

۴- په هغه حالاتو کې چې د مظنون

## گرفتاری

مادهٔ نزدهم:

(۱) گرفتاری به موجب این قانون عبارت از دستگیری و تحت نظارت قرار دادن شخص مظنون می باشد که بر اساس امر مرجع ذیصلاح در حالات ذیل صورت می گیرد:

۱- در حالاتی که عمل ارتکابیه جنایت و یا جنحه ای باشد که جزای آن حبس بیشتر از سه سال در قانون پیشبینی شده باشد.

۲- در حالتی که حفاظت و مصئونیت مردم به شمول متضرر و شهود به مخاطره بیافتد.

۳- در حالاتی که احتمال فرار مظنون یا متهم متصور باشد و یا به ارگان های کشف و تحقیق حاضر نگردد.

۴- در حالاتی که مظنون یا

يا تورن هستوګنځی ځرګند نه وي او ددې مادې دلومړۍ فقرې په (۱) جزء کې ددرج شوي جنايت اويا جنحې مرتکب شوی وي.

(۲) د مظنون نيول او تر څارنې لا ندې راوستل د مجازاتو په مفهوم ندی، بلکې د احتياطي تدبيرونو د نيولو په توګه په ټاکلې او ځرګنده محدوده کې د هغه ساتل دي.

(۳) هيڅ شخص ګرفتار او تر څارنې لاندې نه راوستل کېږي، خو دا چې مؤجه دليلونه د هغه د نيولو او تر څارنې لاندې د راوستلو په هکله وجود ولري.

(۴) هغه اشخاص چې د دې قانون د حکمونو په موجب د نيولو واک لري، کولای شي د مؤجه او قانوني دليلونو د شته والي په صورت کې مظنون يا تورن ګرفتار او تر نظارت او توقيف لاندې ونيسي.

په دې فقرې کې درج شوي واکمن

متهم، محل سكونت مشخص نداشته و مرتكب جنايت و يا جنحه ای مندرج جزء (۱) فقرهٔ یک این ماده شده باشد.

(۲) گرفتاری و تحت نظارت قرار دادن مظنون به مفهوم مجازات نبوده، بلکه نگهداری وی در یک محدودهٔ معین و مشخص منحیث اتخاذ تدابیر احتیاطی می باشد.

(۳) هیچ شخص گرفتار و تحت نظارت قرار داده شده نمی تواند، مگر اینکه دلایل مؤجه مبنی برگرفتاری و تحت نظارت قرار دادن وی وجود داشته باشد.

(۴) اشخاصی‌که به موجب احکام این قانون صلاحیت گرفتاری را دارند، می توانند در صورت موجودیت دلایل مؤجه و قانونی مظنون یا متهم را گرفتار و تحت نظارت و توقیف قرار دهند.

اشخاص با صلاحیت مندرج این فقره

اشخاص عبارت دي له:

۱- د عسكري قطعې قوماندان:

د عسكري قطعې قوماندان ددې مادې د لومړۍ فقرې په اجزاوو كې د درج شوو حالاتو د شتون په صورت كې د (۷۲) ساعتونو لپاره د مظنون د نظارت واک لري.

۲- عسكري څارنوال:

عسكري څارنوال د څېړنو او عدلي تعقيب په پړاو كې كولى شي، د شخص د توقيف امر تر (۱۵) ورځو پورې د مدلل او قانوني قرار په ترڅ كې صادر كړي.

۳- د عسكري محكمې رئيس:

د عسكري محكمې رئيس د څېړنو او محاكمې په هر پړاو كې كولى شي د قانون مطابق د تورن يا مظنون شخص د توقيف امر صادر كړي.

(۵) په كشف پورې اړوند اجراآت د (۷۲) ساعتونو په موده كې پای ته

عبارتند از:

۱- قوماندان قطعهٔ عسكرى:

قوماندان قطعهٔ عسكرى در صورت موجوديت حالات مندرج اجزاى فقرهٔ يک اين ماده به مدت (۷۲) ساعت صلاحيت نظارت مظنون را دارد.

۲- څارنوال عسكرى:

څارنوال عسكرى در مرحلهٔ تحقيقات و تعقيب عدلی می تواند امر توقيف شخص را طی قرار مدلل و قانونى الى مدت (۱۵) يوم صادر نمايد.

۳- رئيس محكمهٔ عسكرى:

رئيس محكمهٔ عسكرى در هر مرحلهٔ از تحقيقات و يا محاكمه می تواند امر توقيف شخص مظنون يا متهم را طبق قانون صادر نمايد.

(۵) اجراآت مربوط به كشف طی مدت (۷۲) ساعت به پايان رسيده و

رسېږي او مظنون له اړوندو سندونو سره د تحقیق لپاره واکمنې مرجع ته سپارل کېږي.

(٦) هغه شخص چې د تورن او یا د مظنون د توقیف او یا څارنې امر صادر وي باید د(۲۴) ساعتونو په ترخ کې لاندنیو اړوندو مراجعوته خبر ورکړي:

۱- دهغه قطعې قوماندان چې توقیف شوی شخص دهغه منسوب وي.

۲- د اړوند جزوتام او یا عسکري قطعې د قوماندان حقوقي مشاور.

۳- اړوند عسکري څارنوال.

۴- د توقیف خاني آمریت.

## د تبنتېدلو نیول

**شلمه ماده:**

د قضایي ضبط مامورین کولای شي تبنتېدلي عسکري منسوبین ونیسي او اړوندو واکمنو مراجعو ته يې تسلیم کړي.

مظنون با اسناد مربوط غرض تحقیق به مرجع ذیصلاح سپرده می شود.

(٦) شخصی که امر نظارت یا توقیف مظنون یا متهم را صادر می نماید باید در ظرف (۲۴) ساعت به مراجع ذیل اطلاع دهد:

۱- قوماندان قطعۀ که شخص توقیف شده منسوب آن باشد.

۲- مشاور حقوقی قوماندان جزوتام و یا قطعۀ عسکری مربوط.

۳- څارنوال عسکری مربوط.

۴- آمریت توقیفخانه.

## گرفتاری فراریان

**مادۀ بیستم:**

مامورین ضبط قضائی می‌توانند منسوبین عسکری فراری را گرفتار و به مراجع ذیصلاح مربوط تسلیم نمایند.

## درییم فصل

## د جرمونو تحقیق

### دتحقیق تر سره کول

یو ویشتمه ماده:

(۱) عسکري څارنوال مکلف دی د مظنون او اړوندو سندونو له تسلیمېدو څخه وروسته، حداکثر د (۷۲) ساعتونو مودې په ترڅ کې له هغه څخه استنطاق وکړي.

(۲) له مظنون څخه استنطاق د هغه دمدافع وکیل په وړاندې صورت مومي. تورن حق لري د استنطاق په بهیر کې د چوپتیا (سکوت) له حق څخه ګټه واخلي.

(۳) د مدافع وکیل له ټاکلو څخه د مخه له مظنون څخه هېڅ ډول استنطاق صورت نه مومي خو دا چې شخصاً له ځانه دفاع وکړي.

(۴) په هغه صورت کې چې عسکري څارنوال دمظنون توقیف لازم وبولي، خپل مدلل وړاندیز اړوندې

## فصل سوم

## تحقیق جرایم

### اجرای تحقیق

مادهٔ بیست ویکم:

(۱) څارنوال عسکری مکلف است بعد از تسلیمی مظنون و اسناد مربوط، حداکثر در خلال مدت (۷۲) ساعت از وی استنطاق نماید.

(۲) استنطاق از مظنون در حضور وکیل مدافع وی صورت می گیرد. متهم حق دارد در جریان استنطاق از حق سکوت استفاده نماید.

(۳) قبل از تعیین وکیل مدافع هیچ نوع استنطاق از مظنون صورت گرفته نمی تواند، مگر اینکه شخصاً از خود دفاع نماید.

(۴) در صورتی که څارنوال عسکری توقیف مظنون را لازم بداند، پیشنهاد مدلل خود را به

محکمې ته وړاندې کوي اومحکمه کولی شي له محاکمې څخه دمخه د مظنون د توقيف يا خوشې کېدو په هکله تصميم ونيسي.

(۵)د تورن د توقيف او د هغه د تمديد په هکله د ابتدائيه محکمې واک حداکثر تر يوې نيمې مياشتې مودې پورې دی، په هغه صورت کې چې قضيه د توقيف د ډېر تمديد غوښتنه وکړي، د استيناف عسکري محکمه کولی شي د نورو دوه مياشتو مودې دتوقيف تمديد چې هر وار له (۳۰) ورځو څخه زيات نه وي منظور کړي په دي شرط چې د ميعاد مجموع له (۱۲۰) ورځو څخه تجاوز ونه کړي.

له (۴) مياشتو څخه ډېر د توقيف تمديد دقانون مطابق دسترې محکمې واک دی.

(٦) هغه شخص چې د واکمنې محکمې په امر توقيف يا د هغه د

محکمۀ مربوط ارايه و محکمه می تواند در مورد توقيف يا رهايی مظنون قبل از محاکمه تصميم اتخاذ نمايد.

(۵) صلاحيت محکمۀ ابتدائيه در مورد توقيف متهم و تمديد آن حداکثر مدت الی يکنيم ماه می باشد، در صورتی که قضيه ايجاب تمديد توقيف بيشتر را نمايد، محکمۀ استيناف عسکری می تواند مدت دو ماه تمديد توقيف ديگر را که هر مرتبه از (۳۰) روز بيشتر نباشد منظور نمايد، مشروط بر اينکه مجموع ميعاد از (۱۲۰) روز تجاوز ننمايد.

تمديد توقيف بيشتر از (۴) ماه طبق قانون از صلاحيت ستره محکمه می باشد.

(٦) شخصی که به امر محکمۀ ذيصلاح توقيف يا مدت توقيف آن

توقیف موده تمدید شوې وي، دهغه خوشې کول هم د واکمنې محکمې له واک څخه دی. په هغه صورت کې چې د تورن یا مظنون د توقیف امر دڅارنوال له خوا صادر شوی وي، دقانون مطابق دهغه دخوشې کولو واک هم اړوند څارنوال لري.

## د دلیلونو او شواهدو راټولول

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) عسکري څارنوال مکلف دی مؤجه دلیلونه او شواهد چې د مظنون په ضرر یا ګټه وي، راټول کړي.

(۲) د بنسټیزو اثباتیه مدرکونو د راټولولو کړنلارې، په لاندې توګه دي:

۱- د شهادت اورېدل، دتورن د بیانونو اخیستل، اعتراف یا اقرار.

۲- شهود.

۳- استنطاق.

۴- پلټنه او تلاشي.

---

تمدید شده باشد، رهایی آن نیز از صلاحیت محکمهٔ ذیصلاح می باشد. در صورتی که امر توقیف مظنون یا متهم توسط څارنوال صادر شده باشد، طبق قانون رهایی وی از صلاحیت څارنوال مربوط می باشد.

## جمع آوری دلایل و شواهد

**مادهٔ بیست و دوم:**

(۱) څارنوال عسکری مکلف است دلایل و شواهد مؤجه را که به ضرر یا نفع مظنون باشد، جمع آوری نماید.

(۲) روش های جمع آوری مدارک اثباتیهٔ اساسی قرار ذیل است:

۱- استماع شهادت، اخذ اظهارات، اعتراف یا اقرار متهم.

۲- شهود.

۳- استنطاق.

۴- تفتیش و تلاشی.

۵- په صف کې پيژندنه.
۶-ارزول اوتخصصي کتنې(معاينې).
۷- د جرمي شيانو يا هغو وسايلو ضبطول چې د جرم د ارتکاب په وخت کې له هغو څخه ګټه اخيستل شوې وي.

## د مدافع وکيل حضور

**درويشتمه ماده:**

(۱) د مظنون يا تورن مدافع وکيل حق لري د استنطاق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې حاضر وي.

(۲) مدافع وکيل حق لري د دعوي په ټولو پړاوونو کې، د قضيې په اړوند سندونه او مدرکونه راټول او وڅيړي او د معلوماتو د ترلاسه کولو او د قضيې د روښانتيا لپاره لازمې پوښتنې وړاندې او ځواب ترلاسه کړي.

(۳) مدافع وکيل او تورن حق لري د تلاشۍ، له شهودو څخه د استنطاق او د اهل خبره وو دکتنو په بهير کې

۵- شناسائی در صف.
۶- ارزيابی و معاينات تخصصی.
۷- ضبط اشيای جرمی يا وسايلی که حين ارتکاب جرم از آن استفاده به عمل آمده باشد.

## حضور وکيل مدافع

**مادۀ بيست و سوم:**

(۱) وکيل مدافع مظنون يا متهم حق دارد در تمام مراحل استنطاق و محاکمه حاضر باشد.

(۲) وکيل مدافع حق دارد در تمام مراحل دعوی، اسناد و مدارک مربوط به قضيه را جمع آوری وبررسی و سوالات لازم را جهت کسب معلومات و روشن شدن قضيه ارايه و جواب حاصل نمايد.

(۳) وکيل مدافع و متهم حق دارند در جريان تلاشی، استنطاق از شهود و معاينات اهل خبره حاضر

حاضر وي.

(۴) څارنوال مکلف دی د تلاشی او مصاحبې، استنطاق او په صف کې د پېژندنې یا داهل خبره وو د کتنې د ترسره کولو په وخت کې چې د هغه یا د مستنطقینو لخوا تنظیمېږي، د تحقیقاتو له پیل کېدو څخه (۷۲) ساعته د مخه، مدافع وکیل او تورن خبر کړي.

(۵) د بیړنۍ اړتیا د احساسېدو په صورت کې چې د الزام د مدرکونو د له منځه تلو احتمال وجود ولري، څارنوال کولای شي تورن یا دهغه مدافع وکیل ته له مخکنۍ خبرتیا پرته، مدرکونه راټول کړي. پدې صورت کې څارنوال مکلف دی ټول لاس ته راغلي معلومات، د هغو له راټولېدو وروسته د (۷۲) ساعتونو په موده کې تورن یا دهغه مدافع وکیل ته وړاندې کړي.

باشند.

(۴) څارنوال مکلف است حین اجرای تلاشی و مصاحبه، استنطاق، شناسائی در صف یا معاینهٔ اهل خبره که توسط وی یا مستنطقین تنظیم می‌گردد، (۷۲) ساعت قبل از آغاز تحقیقات، وکیل مدافع و متهم را مطلع سازد.

(۵) در صورت احساس ضرورت عاجل که احتمال از بین رفتن مدارک الزام وجود داشته باشد، څارنوال می تواند مدارک را بدون اطلاعیهٔ قبلی به متهم یا وکیل مدافع وی، جمع آوری نماید. در این صورت څارنوال مکلف است تمام معلومات بدست آمده را در مدت (۷۲) ساعت بعد از جمع آوری آن به متهم یا وکیل مدافع وی ارایه نماید.

## د تحقیقاتو پایله

ثلبریشتمه ماده:

(۱) که چیرې عسکري څارنوال د تحقیقاتو په پای کې تشخیص کړي چې مؤجه مدرکونه او د الزام کافي دلایل دمظنون پر علیه نشته، کولای شي دوسیه حفظ او مظنون خوشې کړي.

(۲) که چیرې د قضیې د عدلي تعقیب لپاره د الزام کافي دلیلونه وجود ولري، عسکري څارنوال مکلف دی د نیولو له نېټې څخه زیات نه زیات د (۱۲۰) ورځو مودې په ترڅ کې صورت دعوي ترتیب او له ټولو مدرکونو سره یې عسکري ابتدائیه محکمې ته ارجاع او محکمه صورت دعوي تورن او د هغه مدافع وکیل ته وړاندې کوي.

پدې صورت کې تورن او مدافع وکیل یې دلسو ورځو مودې په ترڅ کې خپله د فاعیه ترتیبوي او محکمې

## نتیجۀ تحقیقات

مادۀ بیست و چهارم:

(۱) هرگاه څارنوال عسکری در ختم تحقیقات تشخیص نماید که مدارک مؤجه و دلایل کافی الزام علیه مظنون وجود ندارد، می تواند دوسیه را حفظ و مظنون را رها نماید.

(۲) هرگاه دلایل کافی الزام جهت تعقیب عدلی قضیه وجود داشته باشد، څارنوال عسکری مکلف است درخلال حداکثر مدت (۱۲۰) روز از تاریخ گرفتاری، صورت دعوی را ترتیب و با تمام مدارک به محکمۀ ابتدائیۀ عسکری ارجاع و محکمه، صورت دعوی را به مظنون و وکیل مدافع وی ارایه می‌نماید.

در این صورت متهم و وکیل مدافع وی در خلال مدت ده روز دفاعیۀ خود را ترتیب و به محکمه ارایه می

ته يې وړاندې کوي.

## څلورم فصل

## محاکمه

**د قاضيانو نصاب**

**پنځه ويشتمه ماده:**

(۱) په عسکري محکمو کې د جرمي قضيو څېړنه او د حکم صادرول د رئيس په ګډون د دريو قاضيانو په واسطه تر سره کېږي، خودا چې د قاضيانو شمېر له درې کسانو څخه لږ وي، په دې صورت کې د قضيې څېړنه له دريو څخه د لږو کسانو په واسطه جواز لري.

(۲) په هغه صورت کې چې له درې کسانو څخه د لږو قاضيانو ترمنځ درأيو اتفاق شتون ونلري، دعسکري استيناف دمحکمې رئيس کولای شي قضايي نصاب ددې مادې د لومړۍ فقرې په پام کې نيولو سره بشپړ کړي. په دې حالت کې قضيي ته رسېدنه د قاضيانو دنصاب تر

نماید.

## فصل چهارم

## محاکمه

**نصاب قضات**

**مادۀ بیست و پنجم:**

(۱) رسیدگی به قضایای جرمی و صدور حکم در محاکم عسکری توسط سه قاضی بشمول رئیس محکمه صورت می گیرد، مگر اینکه تعداد قضات کمتر از سه نفر باشد، در این صورت رسیدگی قضیه توسط کمتر از سه نفر جواز دارد.

(۲) در صورتی که اتفاق رأی بین قضات کمتر از سه نفر وجود نداشته باشد، رئیس محکمه استیناف عسکری می تواند نصاب قضایی را طبق فقرۀ یک این ماده تکمیل نماید. در این حالت رسیدگی به قضیه الی تکمیل نصاب قضات

بشپړېدو پورې ځنډول کېږي او د بل قاضي تر ګمارلو وروسته پيل او دمحکمي دپخوانيو اجراآتو بهير ددعوي د دواړو اړخونو په حضور کې نوي قاضي ته قرائت کېږي.

## د محکمې منشي

**شپږويشتمه ماده:**

د دعوي د اړخونو د شهودو، زيانمن شوي، اهل خبره وو اظهاراتو او نورو موضوعاتو په شمول د محاکمې د اجراآتو او بهير د ثبتولو لپاره د محکمې د تحريراتو مدير، د منشي په توګه ټاکل کېږي او توظيفېږي.

## د څېړلو تمديد

**اووه ويشتمه ماده:**

د مؤجهو دليلونو د شته والي په صورت کې د قضيې څېړل د دعوي له اړخونو څخه ديوه اړخ د غوښتنليک پر بنسټ تمديديدلی شي، په دې شرط چې د تورن د چټکې محاکمې حق نقض نشي.

متوقف و بعد از توظيف قاضی ديگر آغاز و جريان اجراآت قبلی محکمه به قاضی جديد در حضور طرفين دعوی قرائت می گردد.

## منشی محکمه

**مادۀ بيست و ششم:**

جهت ثبت اجراآت و جريان محاکمه به شمول اظهارات طرفين دعوی، شهود، متضرر، اهل خبره و ساير موضوعات، مدير تحريرات محکمه به حيث منشی تعيين و توظيف می‌گردد.

## تمديد رسيدگی

**مادۀ بيست وهفتم:**

در صورت موجوديت دلايل مؤجه، رسيدگی به قضيه به اساس درخواست يکی از طرفين دعوی تمديد شده می تواند، مشروط بر اينکه حق محاکمۀ سريع متهم نقض نگردد.

## د محكمې مصؤنيت

اته ويشتمه ماده:

شخص يا واک لرونکی مقام چې د قضيې د څېړلو په بهير کې، په عسكري څارنوال، د عسكري محكمې په قاضي يا په مدافع وكيل باندې نفوذ اعمال كړي، د قانون د حكمونو مطابق مجازات كېږي.

## دقاضي امتناع

نهه ويشتمه ماده:

(۱) قاضي نشي كولای په لاندې حالتونو كې قضيه وڅېړي:

۱- په هغه صورت كې چې جرم د قاضي يا د هغه تر دريېمې درجې پورې د خپلوانو پر عليه ترسره شوی وي.

۲- په هغه صورت كې چې قاضي د قضايي ضبط د مامور، مستنطق، څارنوال، مدافع وكيل، شاهد يا داهل خبره په صفت، په قضيې كې ګډون

## مصئونيت محكمه

مادۀ بيست و هشتم:

شخص يا مقام صلاحيت دار كه درجريان رسيدگی قضيه بالای څارنوال عسكری، قاضی محكمۀ عسكری يا وكيل مدافع اعمال نفوذ نمايد، مطابق احكام قانون مجازات می گردد.

## امتناع قاضی

مادۀ بيست و نهم:

(۱) قاضی نمی‌تواند در احوال ذيل به قضيه رسيدگی نمايد:

۱- در صورتی‌كه جرم عليه قاضی يا اقارب وی الی درجۀ سوم ارتكاب يافته باشد.

۲- در صورتی‌كه قاضی به صفت مامور ضبط قضائی، مستنطق، څارنوال ، وكيل مدافع، شاهد يا اهل خبره در قضيه اشتراک نموده

کړي وي.

(۲)ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرایطو د شتون په صورت کې، قاضي مکلف دی چې خپله امتناع په لیکلې توګه د محکمې رئیس ته وړاندې کړي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی حکم د محکمې رئیس ته متوجه وي، هغه مکلف دی د امتناع موضوع په لیکلې توګه د پورتنۍ محکمې رئیس ته وړاندې کړي.

(۴) د ابتدائیه یا دپورتنۍ محکمې درئیس تصمیم دهغوی د واک په ساحه کې نهایي دی.

(۵) که چېرې د ابتدائیه محکمې رئیس یا د پورتنۍ محکمې رئیس د امتناع غوښتنه ومني، بل قاضي دقضیې د رسېدګۍ په غرض ټاکي.

(٦) د قضیې اجراآت د امتناع

باشد.

(۲) در صورت موجودیت شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، قاضی مکلف است امتناع خود را کتباً به رئیس محکمه ارایه نماید.

(۳) هرگاه حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده متوجه رئیس محکمه باشد، وی مکلف است موضوع امتناع خود را کتباً به رئیس محکمهٔ فوقانی ارایه نماید.

(۴) تصمیم رئیس محکمهٔ ابتدائیه یا فوقانی در ساحهٔ صلاحیت آنها نهائی می باشد.

(۵) هرگاه رئیس محکمهٔ ابتدائیه یا رئیس محکمهٔ فوقانی درخواست امتناع را بپذیرد، قاضی دیگری را غرض رسیدگی قضیه توظیف می نماید.

(٦) اجراآت قضیه الی اتخاذ تصمیم

د منلو او د نوي قاضي د توظيفېدو په هکله د وروستني تصميم تر نيولو پورې، ځنډول کېږي.

## د قاضي د واک ردېدل

**دېرشمه ماده:**

تورن، مدافع وکيل او څارنوال کولای شي ددې قانون د نهه ويشتمې مادې په (۱) فقره کې د درج شويو دليلونو د موجوديت په صورت کې، د قاضي يا د محکمې د رئيس رد له واکمنې مرجع څخه وغواړي.

## د محاکمې نېټه

**يو دېرشمه ماده:**

(۱) ابتدائيه محکمه د څارنوال د صورت دعوي له رسېدو وروسته، د محاکمې نېټه او ورځ ټاکي او (لس) ورځې مخکې د قضايي غونډې له دايرېدو څخه يې د دعوي د اړخونو خبرتيا ته رسوي.

(۲) ابتدائيه محکمه مکلفه ده زيات

نهائی مبنی بر پذیرفتن امتناع و توظیف قاضی جدید به تعویق انداخته می شود.

## رد صلاحیت قاضی

**مادهٔ سی ام:**

متهم، وکیل مدافع و څارنوال می توانند در صورت موجودیت دلایل مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ بیست و نهم این قانون، رد قاضی یا رئیس محکمه را از مرجع ذیصلاح تقاضا نمایند.

## تاریخ محاکمه

**مادهٔ سی و یکم:**

(۱) محکمهٔ ابتدائیه بعد از مواصلت صورت دعوی څارنوال، تاریخ و روز محاکمه را تعیین و (ده) روز قبل از تدویر جلسهٔ قضائی به اطلاع طرفین دعوی می رساند.

(۲) محکمهٔ ابتدائیه مکلف است

نه زيات تر يوې مياشتې مودې پورې قضيه وڅېړي.

**شاهدانو او مدركونو ته لاس رسي**

**دوه دېرشمه ماده:**

